چې پـه دا جهـان لـه بـدو ګرېـزان وي
پـه هغـه جهـان بـه خـوښ هغـه کسـان وي
چې بـدي کانـدې اختيـاره پـه دنيـا کـې
پـه عقبـا بـه يـې اسـتوګه پـه نېـران وي

"ملا لتار"


# زیری

پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۱۹ – ۲۴ مه ګڼه ▣ دريېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۹ - ۲۲۴ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمريز کال د کب (حوت) ۲۷ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د جمادي الاولی ۲۶ مه ▣ ۲۰۱۵ زېږديز کال د مارچ ۱۸ مه


## د استاد محمد صديق پسرلي د شعر امتياز


❁ څېړنوال محمد نبي صلاحي


دا خبره به ټول پښتانه، په تېره بيا فرهنګي کهول را سره ومني، چې ارواښاد استاد محمد صديق پسرلی، د افغانستان د اوسنيو ادبياتو، يو پياوړی ادبي قافله سالارو. که په کوزه پښتونخوا کې، ارواښاد مير حمزه شينواری د غزل سالار او بابا و، په افغانستان کې، استاد محمد صديق پسرلی، د پښتو غزل سالار، بابا او د سر سړی دی. يوازې په دې توپير، چې د ارواښاد مير حمزه شينواري د غزلونو کميت، تر هغه ډېر او د استاد پسرلي، د غزلونو کيفيت، تر هغه لوړ دی.

دغو دواړو نامتو شاعرانو، خپلې لومړۍ شعري تجربې، د شاعري په لومړيو وختو کې، په خپلو دويمو ژبو کې کړې دي. ارواښاد ميرحمزه شينواري، خپل لومړي شعرونه، په اردو ژبه کې ويلي دي، خو کله يې، چې خپل پير ورته وويل، نو بيا يې، پښتو شاعري ته، مخه کړه او ښه په کلکه يې، خپله ملا ورته وتړله. ان په دې برخه کې، دومره په مخ ولاړ، چې د دې دعوه يې وکړه، چې د پښتو غزل اننګي، د حمزه له سرو وينو جوړ دي او په هغو، هغه ځوان شو، مګر په خپله، په ملا کړوپ او بوډا شو. څه ښه يې ويلي دي:

ستا پـه اننګـو کـې د حمـزه د وينـو سـره دي
تـه شـوې د پښـتو غزلـه ځوان زه دې بابـا کـړم

دغه شان، استاد پسرلي، د خپل شعر لومړۍ تجربې، په دري ژبه کې کړې دي، مګر کله يې، چې د پښتو مينه په زړه کې وتخنيده، په پخوانۍ شاعري يې اور ولګاوه او د پښتون حُسن او ښکلا، په سمندر کې ډوب شو.

د استاد په باور:

د واکمنـــو زنـــدګي هـــم د عبـــرت ده
مســت موجونـه دي چـې يـو پـر بـل سـپرېږي
دا دســـتور دی زورور امـــواج د بحـــر
لحظـه پـس تـر کمزوريـو لانـدې کېـږي

دلته زما منظور، د دوو نوميالیو شاعرانو د شعرونو پرتلنه نه ده، بلکې دې مهمې موضوع ته، د درنو لوستونکو پام را اړول دي. ځوان څېړونکي کولی شي، د دغو دوو غزل سالارانو، چې دواړه زموږ د اوسمهال پېر د غزل باباګان او سرلاري دي، د دوی د شاعرانه کلام او د شعر او شعري تجربو له پرتلنې او مقايسې نه، ډېر څه ترلاسه کړي.

په هر حال، د استاد پسرلي د شعر، يوه ډېره مهمه ځانګړتيا او شاعرانه امتياز دا دی، چې هغه په متنوعو موضوعاتو بنا دی. له ژونده ډک شعر يې ويلی دی، له صداقت او اخلاصه ډک شعر يې ويلی دی او د پياوړي شاعرانه منطق په څنګ کې، نورې ګڼې شاعرانه ښکلاوې او خوبۍ لري. هر ټولنيز پيغام يې، چې د خپل شعر په کرونده کې کرلی دی، په هر حالت او هر وخت کې، چې ويلی او ليکلی دی، د شعر له قلمروه نه دی وتلی.

د ده د شعر بل خصوصيت دا دی، کله چې لوستونکی، د ده شاعرانه کلام لولي، هغه په دې يقين لري، چې څښتن يې، رښتيا راته وايي. دا ډېره ارزښتناکه خبره ده. تاسې به په خپل ژوند کې، ډېر داسې کسان ليدلي وي، چې په شعر کې يو شی او په عمل کې بل څه وي، مګر استاد داسې نه دی. کوم صداقت، چې تاسې د هغه په کلام کې وينئ، هغه صداقت او اخلاص، د هغه په شخصي کرکټر کې هم نغښتی و.

د استاد د شعري سبک سترتيا په دې کې ده، چې ناڅاپي پېښې، بې ارزښته خيالات او افکار په کې، ډېر لږ غورځول شوي دي او شاعر په ښکاره، د خپلې افغاني ټولنې د اساسي غوښتنو بيانوونکی دی. د ښه او معياري سبک، يوه ځانګړتيا هم دا ده، چې خاوند يې، رښتيني افکار ولري. څوک چې د بل په خوله غږيزي او د نورو د افکارو مقلد وي، رښتيني او معياري سبک نه شي درلودی. موږ د ده په شعري سبک کې، د ده وړتيا هم وينو، چې شاعر څنګه پېچلې موضوعګانې، په روانه ژبه بيانوي. د ده هر غزل، پيل، منځ او پای لري او دا په نړيواله کچه، د ښو ادبياتو يوه ځانګړتيا ده.

د ده پياوړی شاعرانه منطق او په متنوعو موضوعاتو تماس، د ده د غزل مقام لوړ کړی دی او د ده د شعر ښکلا پېژاړخ يې، لا ښکلی او د ډېرو له خوا، د منلو وړ ګرځولی دی. مهمه دا ده، چې د ده شعر، رښتيا هم، د ډېر حساب وړ شعر دی.

موږ به د يو شمېر دوستانو سپينې خبرې، په ډېره مشکله سره، د ډېر ښه او عالي شعر په نامه قبولې کړو. اصلي خبره دا ده، چې کله د شعر نوم اخلو، نو هغه بايد په رښتينې معنا شعر وي.




دويم مخ ⇦

# کتاب پوهنه

څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

کتابپوهنه یا کتاب پېژندنه د ادبپوهنې یوه بله فرعي څانګه ده. دا هغه پوهنه ده چې د کتابونو د چاپي او خطي نسخو د پېژندنې او د هغو د بېلابېلو ځانګړنو په اړه څېړنه کوي. (۱)

کتابپوهنه هغه پوهنه ده، چې د ادب تاریخ، ادب تیوري او ادبي کره کتنې د ګڼو آثارو په پېژندنه کې له څېړونکي سره زیاته مرسته کوي، څېړونکي ته خپل مطلوب آثار ښیي او په لنډ ډول یې ځانګړنې ور پېژني او د لایق ښوونکي په توګه یې لارښوونه کوي. (۲)

کتابپوهنې ته په انګلیسي ژبه کې ببیلوګرافي (Bibliography) وايي. په (فرهنګنامه ادبي فارسي) دویم ټوک کې د دې اصطلاح د پېژندنې په اړه لیکلي دي:

"په انګلیسي کې د دې کلمې لغوي معنا د کتابونو تشریح، تفسیر او ستاینه لیکلې ده، د دې اصطلاح لرغونتیا، چې په یوناني ژبه کې یې ریښه (بیبلوګرافیا) ده، تقریباً ۲۵۰۰ کلونو ته رسېږي. یوناني شاعر کراتینوس (۴۲۰ ق م) دا کلمه د کتاب د لیکونکي په معنا وکاروله، چې د میلادي لومړۍ پېړۍ تر پایه په همدې معنا کارېدله. په همدغو وختونو کې په لومړۍ میلادي پېړۍ کې یوناني طبیب او درمل پېژندونکي (دیوسکور ریدس) دغه کلمه د کتاب لیکنې لپاره وکاروله." (۳)

د (مرجع شناسی ادبی وروش تحقیق) اثر لیکوال، کتابپوهنه داسې راپېژني:

"کتابپوهنه یا کتاب پېژندنه، موږ ته کتابونه له ځینو نورو ځانګړنو سره په منظم او مرتب ډول راپېژني. د اسلامي نړۍ او ایران ځینو پوهانو له څلورمې هجري پېړۍ څخه را وروسته د خپلې زمانې د مروجو او دودیزو علومو د پېژندنې لپاره کتاب لیکنه پیل کړې او په دغو آثارو کې یې د هر علم له پېژندنې وروسته د هغو علومو او فنونو پیاوړي عالمان معرفي کړي او هغه آثار یې هم له ځینو ځانګړنو سره راپېژندلي، چې دغو نومیالیو پوهانو په بېلابېلو علومو او فنونو کې لیکلي دي. دغه کتابونه په واقعیت کې هغه لرغوني او پخواني آثار دي، چې په هغو کې په یو نه یو ډول د کتابپوهنې یا کتاب پېژندنې په اړه خبرې او بحثونه شوي دي، چې د دې لړۍ یو ډېر مشهور کتاب، الفهرست یا فهرست ابن ندیم (۳۸۵ مړ) دی، چې دغه اثر په موضوعي بڼه تهیه شوی، په لسو مقالو کې یې ۳۰ فنون تشریح کړي دي. (۴)

په هغو څېړنو کې چې د کتابپوهنې په اړه ترسره شوې دي، دوه ډوله کتاب پېژندنې تر ستر ګو کېږي:

۱ -موضوعي (توصیفي – تشریحي) کتاب پوهنه.

۲ -انتقادي (تحلیلي) کتابپوهنه.

(فرهنګنامه ادبی فارسی) دویم ټوک د کتاب پېژندنې دا دواړه ډولونه داسې راپېژني:

لومړی –موضوعي (توصیفي –تشریحي) کتابپوهنه (Subject bibliography):

د دې ډول کتابپوهنې ستره موخه د کوچنیو او جزئي اطلاعاتو او معلوماتو تدارک، تنظیم او هغو ته سازمان ورکول دي، دغه اطلاعات او معلومات په خپل وار سره د اطلاعاتو د پراخې مجموعې د نظم او ډلبندۍ غورچاڼ دي، چې جزئیاتو ته لاسرسی اسانوي. په موضوعي کتاب پېژندنه یا کتابپوهنه کې د سندونو، مقالو او کتابونو لیکلړ (فهرست) شامل دی، چې ټول په مجموع کې یوې ځانګړې موضوع پورې اړه لري. په دې ډول کتاب پېژندنه کې د کتاب د لیکوال یا ژباړونکي، خپروونکي، د خپرېدو نېټې او داسې نور جزئیات او ځانګړنې

دریيم مخ

# لنډۍ د څېړنپوه دوست شینواري له نظره

څېړنپوه علي محمد منګل

**زما په سترګو کې ستا مینه**
**چې چېرې کسم هلته تا وینم مَینه**



ترکومه وخته چې پښتون تاریخي مېړنی ولس د دنیا پرمخ ژوندون لري، تر هغې پورې به د لنډیو بې ساری ځلاند ادبي هنر په مینه سره پالل او روزل کېږي؛ په دې مفهوم چې نوي به راغورېږي، هېڅکله به دا تاند او تازه ادبي ګلونه، نه وچېږي. د نوي وخت او نویو پېښو او حوادثو انعکاس به د تل لپاره په کې د یوې تاریخي موضوع په توګه تر سترګو کېږي، ځکه چې نوې لنډۍ د نویو پېښو او تاندو ملي ادبیاتو په راجوتولو کې ډېر زیات ارزښت او اهمیت لري. د نوې زمانې د تاریخ او معاصرو ټولنیزو موضوعاتو په توګه به، بیا په راتلونکي کې نوي نسلونه ترې په مینه استفاده کوي او له دوی څخه به د مخه تاریخي رڼا به په کې په ټوله ادبي او ټولنیزه معنا سره په څرګنده ویني، لکه چې موږ ته د میرویس نیکه تاریخ او لوړ کردار په دغو ادبي دُردانو کې راپاتې دی:

**میرویسه خدا دې جنتي که**
**موږ د ګرګین له ظلمه تا خلاص کړي یونه**

***

**میرویسه رب دې دیدار درکړي**
**چې موږ دې خلاص کړو د پردو له منتونه**

د تنظیمي جنګونو په وخت کې، چې ښکلی کابل او ښکلي کورونه یې کنډر کنډر او خچ پچ وران شول، په دغه ویرجن حال داسې نوې لنډۍ او ټپې را ایجاد او ویل شوې دي:

**کابله لوټې لوټې پروت یې**
**نه د یار غېږ شته نه مې خواته څوک راځینه**

***

**په اور کې وسوې کابل جانه**
**په رنګو خونو کې دې سپي انګولا کینه**

په هر حال، په دغه اړه به زموږ خواخوږي ځوانان، خپلې ادبي څېړنې ترسره کوي او نوی ادبي حاصل به په میراث راته پرېږدي، موږ دلته د لنډیو په اړه نور څه نه وایو.

زموږ د ستر معاصر پوه او څېړونکي ارواښاد څېړنپوه دوست شینواري له درندو لیکنو څخه،

دریيم مخ

# اول نومره

اسدالله غضنفر

میندې او پلرونه غواړي چې اولادې یې اول نومره وي؛ ښوونکي اول نومره ته تر نورو زیات اهمیت ورکوي او اکثرو اول نومره ګانو ته ځان تر نورو بر ښکاري.

اول نومره توب زموږ په تعلیمي نظام کې یو امتیاز دی. موږ د دې امتیاز جل وبل دومره وراخیستي یو، چې یواځې مثبتو خواوو ته یې ګورو او په منفي خواوو یې غور نه کوو. زما په ګومان بهتره ده، چې زموږ په معارف کې د درجې سیستم (اول نومره، دویم نومره... اخر نومره) په ګروپي سیستم واوړي؛ یعنې زده کوونکي دې د لیاقت په حساب په ګروپونو ووېشل شي. مثلاً که په یوه ټولګي کې لس شاګردان په مجموعي ډول تر پنځه اتیا فیصده زیاتې نومرې وړي، دوی دې ټول د اول ګروپ امتیاز ولري او که د ځینو نورو زده کوونکو د ټولو نومرو اوسط د اویا او پنځه اتیا ترمنځ وي، دوی دې په دویم ګروپ کې شامل وي.

البته، د ګروپ په منځ کې به هم دا نه پټېږي چې د چا نومرې څومره دي، مګر دغه د پنځو یا لسو نومرو زیاتوالي یا کموالي ته به ډېر اهمیت نه ورکول کېږي او په ټولګي کې به داسې څوک نه وي، چې اول نومره دې وبلل شي او تر نورو دې زیات وګڼل شي.

د درجې اوسنی سیستم د زده کوونکو په منځ کې د رقابت احساس پیاوړی کوي. موږ دې ته د مثبت رقابت نوم ورکړی دی، خو حقیقت دا دی چې د حسد او کینې منفي احساسات ورسره زیاتېږي.

په شلمه پېړۍ کې چې د ښوونې او روزنې په زړې طریقې نیوکې وشوې، یوه نیوکه همدا وه چې زړه طریقه د زده کوونکو ترمنځ د محبت او مشارکت احساس نه پیاوړی کوي.

زه چې د لېسې د دورې زده کوونکی وم، دویم نومره مې ملګری و، مګر په دې نه خوشحاله کېدم چې ښه درس وواییي. د درجې رقابت نه یواځې د زده کوونکو ترمنځ ترینګنی پیدا کوي، بلکې د ښوونکو او زده کوونکو رابطې ته هم صدمه رسوي. تاسې به ډېر زده کوونکي لیدلي وي، چې له خپلو استادانو شکایت کوي او وایي، چې پلاني ته یې ډېرې او ما ته یې کمې نومرې راکړې، چې په درجه کې راڅخه مخکې شي.

د درجې سیستم ممکن د زده کوونکو او محصلانو د فکري نوښت مخه ونیسي. فکر هغه وخت خلاق وي، چې له یوې موضوع سره مینه

دریيم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورووونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# په ادب کې د طنز اهمیت

د طنز ادبي ډول د نړۍ د بېلابېلو ژبو په ادبیاتو کې له زمانو راهیسې شتون لري، چې د ادبیاتو یوه مهمه او پراخه برخه جوړوي.

د طنز بڼه او فورم د نورو ادبي انواعو په پرتله توپیر لري او همدغه تفاوت طنز ته د مخاطبینو د ورجذبېدو لامل ګرځېدلی دی. د طنز سوژه او موضوع که پخوا محدوده وه او مشخص قالب یې درلود، ولې اوس له زړو قالبونو راوتلی او د منظومو، منثورو، کیسو، داستانونو، نمایشنامو، ډرامو، فلمونو، کارتوني فلمونو او نورو بڼو کې وړاندې کېږي. دغه ادبي ډول، که په هر رنګ او جامه کې وړاندې شي، د نورو ادبي ډولونو په پرتله، د پېښو د ظریفانه پوښښ او جذابیت لرونکی دی.

همدا لامل دی، سره له دې چې د یو شمېر نامتو طنزلیکوالو له مړینې ډېر کلونه تېرېږي، خو تراوسه پورې د همدې جذابیت له امله یې د طنزونو لوستونکي او علاقمندان بې پرېمانه دي. همدا جذابیت دی، چې ځینې لیکوال او شاعران یې هڅولي، چې د خپلو پنځونو په منځپانګه کې د طنز ادبي ډول وکاروي.

اوسمهال، زیات طنز له اوسني طنز سره د بڼې او منځپانګې له مخې او هم د ادب د دغه ډول د کارولو له مخې بدلون او توپیر موندلی دی، په

# نیمګړی خوب

لنډه کیسه

◇ ژباړه: ځېړندویه عاقله سادات

په ژوندانه کې ځینې وخت داسې پېښې پېښېږي، چې په زغملو کې یې انسان پاتې راځي، په پیل کې مزل لنډ، خو وروسته ډېر اوږد وي. د خپلو خوبونو د رښتیا ینې لپاره، چې کومې هڅې کوي؛ خو یو ناڅاپه یې ټولې هڅې او خوارۍ له خاورو سره خاورې شي، د دې خبرې ښه انځور زموږ د ګاونډي حمید د ژوند نیمګړې کیسه ده:

پلار یې د حمید له زېږېدو دوه میاشتې وروسته دوی یواځې پرېښودل، د دوی پالنه او روزنه یې مور ته ور په غاړه شوه، له حمید نه یې یو ورور عمران او یوه خور نادیه مشران وو، د دوی شپې ډېرې په تنګسیه تېرېدې.

مور ته یې هم د دوی پالنه په سخته خوارۍ او نیستۍ کې ور په غاړه شوې وه، په کورونو کې یې کار کاوه او یوه مړۍ ډوډۍ به یې لاسته راوړله او د نیستۍ شپې ورځې به یې سبا کولې، عمران چې لږ څه غټکی شو، د لاس ګاډي په مزدورۍ یې پیل وکړ، نادیې هم له خپلې مور سره په ګډه په چارو کې لاس کاوه. حمید هم غوښتل له دوی سره کار وکړي؛ خو عمران کار ته نه پرې ښود او ورته ویل به یې چې ته باید درس ووایې، ستا د لګښت پېټی زموږ پر اوږو، خو ته دې درسونه وایه، زموږ د ټولو سترګې تاته دي، ته به زموږ ټولې هیلې پوره کوې، هسې هم عمران له خپلې مور سره ژمنه کړې وه، چې په حمید به ښه درسونه وایي او په راتلونکي کې به ښه ډاکټر کېږي او تل به یې خپلې مور ته ویل، چې که خدای کول، زما ورور به یوه ورځ لوی ډاکټر وي او په مشهورو ډاکټرانو کې به یې نوم یادېږي.

شپې او ورځې، میاشتې او کلونه په همدې کړاوونو او امېدونو تېرېدل، تر دولسم ټولګي پورې حمید بریالی پر مخ روان وو او په لوړو نومرو فارغ هم شو، حمید به هم تل خپلې مور ته ویل: زه چې لوی شم، نو ډاکټر به یم او د بې وزلو او بې درملو رنځورانو درملنه به وړیا کوم، مور به یې هم د حمید په داسې خبرو له خپل زویه په وار وار ځارېدله او د بریالیتوب ورکړ او ورته یې وویل: بچیه! په دې خبرو کې سوچ مه وهه، یواځې خپل درسونه وایه؛ ځرنګه چې حمید ډېر لایق او با استعداده او د ښې روزنې خاوند و، همېشه یې د خپلو مشرانو او استادانو ډېر احترام کاوه، نو په لږ وخت کې یې د ټولو په زړونو کې ځای پیدا کړ او ټول ډېر ترې خوښ وو.

میاشتې کلونه تېرېدل، حمید او کورنۍ یې د نیستۍ او خوارۍ د سپېرې څپېړې درد زغامه او صبر یې کاوه، وخت د خوب غوندې تېرېږي، سړی پرې نه پوهېږي؛ خو د وخت تېرېده بدلونونه هم له ځان سره راوړي، نادیه هم پېغله شوه، کورنۍ یې د ودېدو په فکر کې شوه، وایي د نکاح شپه نه بدلېږي، د نادیې د نکاح شپه هم راورسېده او هغه د خپل بخت کور ته لاړه، اوس یې نو د کور ټولې چارې د مور غاړې ته ولوېدې او د نادیې له ودېدو سره په کور کې یو ډول چوپتیا خپره شوه، نو دوی د دې چوپتیا د ماتېدو لپاره د عمران د کور ودانې په فکر کې شول، چې هم د مور د لاس امسا شي او هم د نادیې له وتو سره تللې خوښۍ راستنې شي؛ خو تش لاس یې بیا هم دښمن؛ خو بیا یې د هیلې او امېد لمن پرې نه ښوده او په همدې هیله، چې یوه ورځ به یې د کړاوونو شپه سبا کېږي، خپل زړونه یې ډاډه کول، اخر هم هغه ورځ راورسېده، چې د حمید د وروستي سمستر ازموینې پیل شوې؛ خو حمید د ازموینې په جریان کې ورځ په ورځ کمزوری کېده او ځان یې ښه نه احساساوه؛ خو هڅه یې کوله چې خپله ناروغي له کورنۍ نه پټه کړي، په پیل کې به د اورېدو د عمران له پښو ځمکه وتښتېده؛ خو ډاکټرانو بیا هم دوی ناهیلي نه کړل او د هیلو یو څرک یې ور وښود، ورته یې وویل چې تر اوسه یې لومړی پړاو دی او د درملنې امکانات یې لا هم شته دي؛ خو که ځنډ وکړي، نو دا هیله به هم خدای مه کړه، شنډه شي. ډاکټر ورته د سرطاني ناروغیو د یوه روغتون پته ورکړه او هلته یې د حمید درملنه پیل کړه، د ازموینې پایله هم راغله، حمید په لوړه درجه کامیاب شوی و، یوه ورځ یې استاد پوښتنې ته کور ته ورغی، عمران د حمید د ناروغي ورته وویل، استاد یې په اورېدو ډېر پرېشانه او حیران پاتې شو، د حمید له سرطان تر اوسه د هغه مور هم خبره نه وه، عمران دا خبره له هغې پټه کړې وه؛ خو اوس یې مور هم خبره شوه او پر مور یې هم د حمید له ناعلاجه ناروغۍ نه په خبرېدو سر وچورلېد، لکه نړۍ چې پرې نړېدلې وي، خپل ټول خوبونه یې تالاشوي ولیدل، هیلې یې له خاورو سره خاورې شوې، له ټولو دردوونکې دا چې، حمید هم خبر شو، په سوچونو کې ډوب شو.

استاد یې د دې هر څه په لیدو ډېر خواشینی شو او ټولو ته یې ډاډګیرنه ورکوله، حمید یې په روغتون کې بستر کړ او ډېر معاینات یې وکړل، خو د ټولو معایناتو پایله دا وه، چې د حمید ټوله وینه باید نوې شي او په دې موده کې باید درې کاله په روغتون کې وي، خو په دې خوارۍ او بېوزلۍ کې دومره لګښتونه د وس خبره نه ده، بې له خواشینۍ یې نور هېڅ په وس پوره نه وو، هسې هم د شپو ورځو تېرولو ته حیران وو، استاد یې چې له حال او د دوی په بدې ورځې پوه

پخوانیو ادبیاتو کې طنز یوائې دغندنې، عیب پیدا کولو، په رموزو خبرو کولو او دیو چا د سپکاوي له پاره کارول کېده. خو په نننۍ زمانه کې د طنز اساسي توکي نیوکه او ظرافت بلل کېږي. د دې دواړو له پیوند او شتون پرته، طنز نه شي رامنځ ته کېدلی. همدا لامل دی، چې په اوسني وخت کې طنز د زیاترو لوستونکو او مخاطبینو پام ځان خواته را اړولی او جلب کړی دی.

همدغه پام اوښتنه، په حقیقت کې لوستونکو او مخاطب ته یوه لارښوونه هم له ځان سره لري او په اصل کې د طنز هغې اصلي موخې ته، چې په ټولنه او اشخاصو کې له شتو فسادونو، ناوړتیاوو او نیمګړتیاوو پرده پورته کول، د بشري چلند ناوړه اړخونه، اخلاقي کمزورۍ او ټولنیز فساد په ګوته کول، د بدیو افشا کول، بدکارانو ته نصیحت کول او انسان او ټولنه د اصلاح او سمون خواته بیول دي، رسېدنه ده.

د طنز بنسټیزه موخه د خلکو په روشونو او اجتماعي پدیدو کې بدلون راوستل، له منفي څخه مثبت لور ته هغوی هڅول او د نواقصو اصلاح ده.

د نړۍ په نورو ادبیاتو کې طنز په پراخه کچه کارول کېږي او عملاً ترې استفاده کېږي، خو ولې په پښتو ادبیاتو کې، په هغه کچه چې باید وای، اوسمهال نه تر سترګو کېږي، نو باید په پښتو ادبیاتو کې له دې اړخه موجوده تشه ډکه شي، معیاري طنزونه وکښل شي، د نړۍ د پیاوړو طنز لیکوالو طنزونه په خوږه او روانه ژبه وژباړل شي او په دې وسیلې د طنز او طنز لیکنې جذبه ژوندۍ وساتلی شي.

په همدې هیله !

دعاګانې به یې ورته کولې، د خدای شپې ورځې یو په بل پسې تېرېدې، دوی ټول په خپلو خولو کې ډوب وو؛ خو له دې ټولو هلوځلو او خوارۍ، مزدورۍ سره سره یې، خوره او مه مره هومره ګوزاره کېده او ورسره یې ایله د حمید د زده کړو لپاره یو څه سپمول، د دوی د هڅو او ستونزو د ګاللو پایله دا شوه، چې حمید د طب پوهنځي ته کامیاب شو؛ خو خوارانو ته کامیابي هم د خوشحالۍ زېری نه وي، کورنۍ یې له یوې خوا د هغه بریالیتوب ته خوشحاله، خو د پوهنتون لګښتونو ته اند ښمنه وه، ځکه چې اوس خو د پوهنتون لپاره هم د زیاتو لګښتونو اړتیا وه او دوی دومره زیاتې پیسې نه شوی برابرولی، ځکه ډېر خفه وو، حمید هم ډېر پرېشانه او په سوچونو کې به ډوب و، چې دا ستونزه څنګه حل کړي؛ خو کله چې یې استاد له دې خبرې خبر شو، نو د مرستې پوره ډاډ یې

حمید هره ورځ لړه - لړه تبه وه؛ خو ورځ تر بلې یې په ناروغي زیاتېده، د ناروغۍ په همدې اخ وډب کې یې ازموینه هم پای ته ورسېده او پایلو ته سترګې په لار و؛ خو ناروغي یې نوره هم زیاته شوه او له کورنۍ نه یې ټټول هم ستونزمن شول، یو ځل بیا یې د نېستۍ سپېره څپېړه پر مخ ولګېده او د دارو درمل پیسو ته اړیان دریان و، که څه هم حمید یې څو ډاکټرانو ته ور ووست، ډاکټرانو هم دوا ورکړه؛ خو له دوا سره یې هېڅ ښېګڼه ونه شوه او ورځ په ورځ یې صحت خرابېده، ډاکټرانو ورته د دوی له وسې د پورته معاینات بشپړولو ټینګار کاوه. کورنۍ یې د دې لګښت د زهرو ګوټ ته هم ځان تیار کړ او معاینې یې تر سره کړې؛ خو د نتیجې تر راتګه ټول په اند ښمنه کې وو، چې څه به کېږي. د معاینو پایلې هم ورته ښه زېری رانه وړ او د وینې سرطان تشخیص شو. د وینې د سرطان په

شو، نو د پوره مرستې ورسره ژمن شو، هغه ځینو دوستانو ته د مرستې لاس وغځاوه، دوستانو یې هم په ورین تندي ځواب ورکړ او خدای کول چې درملنه یې په بریالیتوب پای ته ورسېده، مرستندویانو یې هر څه په پټه خوله ورسره وکړل، ما تل د هغوی په هکله فکر کاوه، چې الله تعالی په دې نړۍ کې څومره نېک خلک پیدا کړي دي، چې له بېوزلو سره مرسته کوي، اړتیاوې یې پوره کوي او کورونه یې له ویجاړولو ژغوري. بیا به مې له ځان سره ویل، چې کاشکې ټول شتمن د دې خلکو په څېر وای، چې له بېوزلو سره مرسته وکړي، څرنګه چې د حمید ژوند د دوی په مرسته وژغورل شو او دوی هم خپل حق ادا کړ.

خو له دې دومره درملنې سره سره، د څښتن رضا نه وه، چې حمید روغ شي او د کورنۍ خوبونه یې پوره شي.

## د استاد محمد صدیق...

یعنې هغه فورمول، چې د هغه پر بنسټ شعر پوهان، په یوه انساني کلام، د شعر حکم کوي، هغه ځانګړتیاوې، باید هرومرو ولري.

استاد پسرلي شعر ویلی، مګر د هغه شاعري، تقلیدي بڼه نه لري. د هېچا بې ځایه پیروي او تقلید یې نه دی کړی. دې کار هم، د هغه د غزلیز کلام، ښکلا او جذابیت زیات کړی دی. د شعر کومه خزانه چې لري، هغه یې خپله ده. نو استاد څرنګه چې په شعر کې ګوري، شخصیت یې هم دغه شان دی در واخلئ؛ په دې معنا، چې د ده ظاهر او باطن، د ده هنر او شخصیت دواړه، یو د بل هینداره دي. د سبک ښکلا هم، په باور ولاړه ده او په ټولنه کې، د شاعر سبک، د هغه د ظاهري او باطني ښایست ښکارندوی هم کوي.

درانه لوستونکي، د استاد د فکر لارې، د ده د غزل په نړۍ کې کتلی شي او هغه په ډېره روښانه توګه، د هغه لوړ ارمانونه او د شاعرانه تفکر اروا را پېژني. د ده فکري لارښوونو، زموږ په اوسنۍ ادبي نړۍ کې یو شور، زوږ او یوه لویه هنګامه را اوچته کړې ده. د داسې پوهانو او مشرانو مړینه، د یوه کتابتون سوځېدل دي.

استاد پسرلی، په ظاهره خزان شو، له دې فاني او نیمګړې نړۍ نه یې خپلې سترګې پټې کړې، مګر له معنوي پلوه، د محشر تر ورځې پورې ژوندی دی او دا د ده د شاعرانه کلام له برکته دی.

د استاد لوی میراث، د غزلېز دیوان، ناولونه، کیسې، طنزونه، ادبي مقالې او سریزې دي. د دغه نېک صالح سپین ږیري استاد، شخصي او پښتنې کرکټر، له اخلاقي پلوه د پیروي وړ او یوه بهترینه نمونه ده. خاکساره، متواضع، بې ازاره او رښتینی شاعر او لیکوال و. د هغه ښه یاد او ژوندی خاطرې به، د تل لپاره شنې، ځلانده او تلپاتې وي.

استاد محمد صدیق پسرلي، ډېره پراخه نړۍ درلوده. د هغه د شعري او ادبي بریاوو تر اړخ، د افغان ادبي بهیر، د مېړمن ادبي او کلتوري بهیر، مصور خپرندوی بنسټ او د علم او ادب د خپراوي ټولنې په جوړېدو کې ګټوري، بې ضرره، نرمې، معتدلې او نېکې سپارښتنې او لارښوونې، تل د دغو ادبي بهیرونو او ټولنو د لارې مشال وې. له دې امله، هغه د پښتنو شاعرانو او لیکوالو لوی استاد او فکري لارښود هم و.

استاد د پښتنو لیکوالو او شاعرانو ترمنځ، د یووالي او اتفاق ژوندۍ څلی و. استاد ټول لیکوال او شاعران، د زړه له کومې، ادبي کارونو او مسوولیتونو ته هڅول، د وخت په ارزښت یې پوهول او په شعر او ادب کې یې، په معیار باندې ټینګار کاوه. تل به یې ویل، چې تاسې د خپلو کتابونو شمېر ته، مه خوشحالېږئ، ښه معیار ته یې خوشحاله شئ!

د استاد بل لوی صفت دا و، چې خپل بچیان یې، ژمن لیکوال او ژورنالیستان وروزل او هغه یې په دغو دواړو برخو کې، د استادۍ تر کچې پورې ورسول. له دې امله یې، په دې برخه کې، د نورو لیکوالو او ادیبانو لپاره، یو په زړه پورې مثال قایم او ډېر ارزښتناک بنسټ کېښود.

نو ځکه ویلی شو، چې استاد په اوسنیو ادیبانو او شاعرانو کې، یو ځانګړی او استثنایي مقام لري. د افغانستان په اوسنیو پښتو ادبیاتو او معاصر ژورنالیزم باندې، د دغې ادبي کورنۍ مثبتې او جوړوونکې فکري اغېزې، تر لمر روښانه دي.

اروا دې ښاده وي!

# لنډۍ د دوست ....

چې د لنډیو په برخه کې یې کښلې دي، یو څو غوره ټکي په چڼ ډول ترې را اخلو. ده په ډېرې خندا زما د غوښتنې له مخې راته وویل: منګله!

د پښتو د ولسي ادب لارې کتاب وګوره، ټول مشکل به دې حل او پوښتنه به دې ځواب شي. ده په خپل اثر کې کښلي دي:

"لنډۍ د پښتو د ولسي ادب یوه بې سارې بډایه پانګه ده. زموږ د ټولنې د ژوند او ایډیا هېڅ خوا نشته، چې په لنډیو کې یې انعکاس نه وي موندلی.

مینه، ښکلا، وصال، بېلتون، خوښي، خواشیني، تېری، عدالت، سرښندنه، وطن پالنه او هر ډول رزمي او بزمي ایډیا په لنډیو کې ځای شوې ده، د پښتنو د ولسي ادب، روحیاتو، د ژوند د شرایطو، کولتور او دود پېژندلو لپاره لنډۍ د یوه دایرة المعارف حیثیت لري.

لنډۍ (چې د ټپې، مسرۍ، ټیکۍ په نومونو سره هم یادېږي) د پښتنو په هره سیمه، هر کلي او هر کور کې د ولسي ادب یوه مهمه برخه ده، خو په هره سیمه کې په خاصو غږونو او ټاکلي ډول ویل کېږي، چې مشهور یې د تیرا، ننګرهار، وردګو، شیلګر، کندهار او نور دي (د پکتیا، وزیرستان، کاکړستان او کورمې په اړه یې څه نه دي ویلي) او هر ځای یې غږ او کمپوز د سیمې تر اغېزې لاندې وي او د هر ډول موسیقي په قالب کې ځایېږي.

لنډۍ کله په ځانګړي او کله په ډله ییز ډول، کله یواځې او کله له سروکو سره یوځای ویل کېږي.

استاد دوست، د نورو پښتنو پوهانو په شان، د لنډیو د فورم په اړه ورته نظر لري او وايي:

لنډۍ همېشه له دوو برخو جوړې دي، چې لومړۍ برخه یې نهه او دویمه یې دیارلس سېلابه وي. د لنډۍ دویمه مصرع همېشه په (ونه)، څرګند واو، (ینه)، څرګنده ی، زورکي (əna)، (زورکي + مجهوله یې + مه) پای ته رسېږي، لکه:

په لوړو غرو د خدای نظر دی
په سر یې واورې وروي چاپېر ګلونه
***
که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه
***
زما په رنځ جانان خبر دی
دارو خو نه کړي تش مې نه کوي پوښتنه
***
په خندا شنه په ملا شوې ماته
د جنت حورې! په ګولۍ دې وویشتمه
***
زما په دې وطن کې څه دي
ملالو سترګو د آشنا بند کړی یمه

له دې پرته، د لنډیو یو بل خصوصیت دا هم دی، چې په هر څلورم سلابل یوه څپه (د جملې اکسنټ) راځي او په دې صورت، په لومړۍ برخه کې په څلورم او اتم، په دویمه برخه کې په څلورم، اتم او دولسم سلابل څپه راځي. څپه په خج لرونکې هجا واقع کېږي، له دغه ځایه د لنډیو لومړی او دویم پاړکی هېڅکله په خج لرونکې هجا پای ته نه رسېږي. دی په دغې لنډۍ کې د سلابل او څپې ترسیم وړاندې کوي.

که – په – می – وند + کې – ش – هید – نه + شوې

خدای – ږو – لا – له + یه – بې – نن – ګۍ + ته – دې – سا – تي – نه

دا په هغه صورت کې، چې لنډۍ یواځې ویل کېږي او که له سروکو سره یوځای شي، په هغه صورت کې د سروکو له خصوصیت سره سم د لنډیو په څپو کې توپیر راځي او کله لا داسې هم ویل کېږي، چې کومه څپه ورکې نه احساسېږي، له سیمه ییزو غږونو سره هم څپه په خپل کیفیت نه پاتې کېږي او په یوه نیمه سیمه کې توپیر لري، چې دا څېړنه بېله موضوع او بېل تحقیق غواړي.

دوست شینواري دا هم ویلي دي، چې د پښتو په ولسي ادب کې عموماً او په لنډیو کې خصوصاً د ښځو ونډه ډېره زیاته ده، همدغه لنډۍ دي، چې په ویرنو، ودونو، د غم او خوښیو وختونو کې یې وايي، د لنډیو جوړوونکې هم غالباً ښځې دي، زیاتې لنډۍ د زړه د ژورو تأثراتو، خواشینیو او خپګان احساس دی.

له نیمایي نه زیاتې لنډۍ د غم، خپګان، درد، بېدلي زړه او د محرومیتونو ترجماني کوي. زموږ په ټولنه کې، له بل هر چا نه زیات ښځې له خپلو اجتماعي جایزو حقوقو نه بې برخې دي. نو دغه لنډۍ د دوی د زړه اواز دی، د دوی د دردمن زړه ځګیروي دي او د دوی د غمځپلې سینې آه دی، چې د نارینه وو مخ د دوی تېریو، بدسلوک او د ناوړه دودونو خوا ته اړوي.

کله د بنې له غمه ژاړي:

د بنې غږ را باندې وشو
لکه ډوډۍ په تناره کې وریته شومه

او کله د مېړه له بد سلوکه:

نیستي د خدای له لوري راغله
موزی په ما منت کوي چې خوار دې کړمه

د جبر او زور واده غم بولي او داسې مېړه ته موزی وايي:

موزی په مینه څه پوهېږي
په نس یې موړ که تر سبا کوي خوبونه
***
خاونده بیا دې ماخوستن کړ
د نارضا کټ نه مې ربړدي اندامونه

او کله د بې وسۍ او بې واکۍ له لاسه مرګ غواړي:

صورت زما واک یې د بل دی
خدایه نور واخلې دا بې واکه صورتونه

په هر صورت، لنډۍ زموږ د ټولنې نالوستو او بې سواده خلکو جوړې کړې او په ساده او روانه ژبه ویل شوې دي...."

په پای کې به د استاد دوست د اروا ښادېدو لپاره، دغو ادبي دُردانو ته هم ځیر شو:

چې در په یاد شم خپله یاره
زما د پاره خدای ته پورته که لاسونه
***
په ژړا مه راپسې ژاړه
بېګا دعا راته کوه سحر نفلونه
***
اسمان کې ستوري راټولېږي
لیلی د یار له غېږې څڼې ټولوینه

په ادبي مینه

# د خیبر ...

د خیبر غېږ د دولت له زوره چوي
خو خیبر د بېوسۍ په غېږ کې مړ شو
د ظالم نظام د ظلم قرباني شو
په خپل کور د پردېسۍ په غېږ کې مړ شو

د خیبر د قبر تر څنګ، دې چوپې چوپتیا هغه ورځ هم را یاده کړه، چې خیبر یو کال وړاندې له دې قبر نه څو متره ورها خوا د حمزه بابا په یاد یو له جم او جوشه ډک محفل جوړ کړی و او د جم فضا د بابا په یاد د وینا وو او شعرونو له ځوږ او شوره ډکه شوه او د لرې او برې پښتونخوا ګڼ لیکوال، شاعران، ادیبان، مخور، سپین ږیري او ځوانان له لرې او نژدې ځایونو نه ورته راغلي وو، ده به له هر یوه سره په خندا روغبړ کاوه او په خپل خاص انداز کې یې د ستېج چارې سمبالولې، زما نوم یې چې په خپل لست کې ولیکه، راته ویې ښود، ویې ویل:

سم مې لیکلی؟

ما ورته وخندل، ومې ویل: لیکلی خو دې سم دی، خو اورویې به یې غلط!

همداسې وشول، کله یې چې ستېج ته ور وغوښتلم، په خپل خاص انداز کې یې وویل: اوس به ښاغلی رفیع الله حبیب تاسو ته خپله مقاله واوروي، له ځان سره مې وخندل او له خندا سره متوجه شوم، چې زه په هغه له جم او جوشه ډکه صحنه کې نه د خیبر ستېج ته نه، بلکې د یوه غمخن ماښام په چوپتیا کې د خیبر قبر ته ولاړ یم.

تردې وروسته د خاطراتو فلم خپلو منظمو څرخونو ته دوام ورکړ او زما د خیبر ملاقات هغې وروستۍ صحنې ته راورسېد، تر چې بیا مو سره ونه لیدل او دا مو آخري دیدن شو، هو! هغه شپه رامخته شوه، چې زه او ښاغلی ډاکټر فرید بزګر د سپټمبر په ۲۹ مه نېټه لواړګي ته د اروا ښاد ابوالمراد حمزه بابا په یاد، شوې درنې غونډې ته ولاړو او سهار د وخته د بابا تر زیارت کولو وروسته راروان شوو، په جم کې ښکته شوو او د ښاغلو رفعت الله او سبحان تصور په ملتیا د ده پوښتنې ته کور ته ورغلو، خیبر په کور کې و. د خپل هر اوونیز عادت مطابق یې خپلې څڼې د شړشمو په تېلو غوړې کړې وې، په کمزورو قدمونو حجرې ته راغی، راسره کښیناست، خپل زوی عدیل ته یې وویل، چې مونږ ته ترخه قهوه راوړي، هغه چې روان شو، غږ یې ورته وکړ: لاچي په کې واچوه، شات ور سره راوړه!

عدیل مزه دار، په لاچي خوشبو شوی چای او شات راوړل، ده په خپله شات راواخیستل او مېلمنو ته یې د چایو په پیالو کې واچول، ما وویل: زه یې همداسې ترخې څښم!

ده وویل: هو! شوګر دې څنګه دی.

ما وویل: ښه یم، د خدای فضل دی، پرهېز کوم او پیاده ګرځم!

خوشحاله شو.

بیا مې ترې وپوښتل: څنګه، کوم نوی غزل دې ویلی که نه؟ چې راته وایې وروې؟

ویې ویل: زاړه مې هم عدیل ته سپارلي، زه نور روان یم!

د "زه نور روان یم!" د جملې ادا یې ډېره دردوونکې وه، خو ما ورته وخندل او په ډاډمنه لهجه مې ورته وویل: بې ځایه تشویش مه کوه، ان شاءالله روغ جوړ یې! بیا مې د خبرې د اړولو لپاره ورته وویل: له یاده څه ووایه! او په خندا مې ورته وویل: هغه "ساړه مې کېږي" غزل وواپه! ځواب یې مثبت و، "د ساړه مې کېږي" غزل یې په خوند – خوند راته واوراوه او مقطع ته یې ورسېد:

ویل یې دا کوم لېوني دي چې یې اور اخیستی
ما ویل خیبر یمه، تو دېرمه ساړه مې کېږي!

بیا ده هم له حاضرینو نه د کلام اورول وغوښتل؛ ما، رفعت او تصور غزلې واورولې او ډاکټر فرید بزګر خپل یو آزاد نظم وواېه، ده "تصور" ته چې په دې عمر کې ښه او خوږه شاعري کوي، داد او ډاډ ورکړ او ترې روان شولو.

یو ځل مې بیا ځان ته پام شو، چې د خیبر قبر ته چې یواځې همدا یوه یوه نیمه ګېنټه وړاندې جوړ شوی، ولاړ یم او هغه خوږ ژبی، ځوانیمرګ شاعر چې یوه میاشت مخکې مې په غېږ کې نیولی و او خدای پاماني مې ورسره کوله، نن د تل لپاره د خاورو زړه ته تللی او بیا – بیا یې د لیدو امکان نشته او بیا – بیا داسې شپې او ورځې نه راځي، چې سره کښېنو او مجلس سره وکړو.

سترګې مې بیا له اوښکو راډکې شوې او یو ځل بیا مې په ذهن کې یوې بلې قطعې غزونې وکړې:

تلم یې دیدن ته زه، خو وخت ناوخته شوی و ډېر
خیبر و تللی ما یې څلي ته سلام وکړ
غږ مې پرې وکړ، راته ویې ویل د حال په ژبه:
"تر ډېر نارامه ژونده وروسته مې آرام وکړ"

دا د خیبر وروستنی ځواب و چې راپې کړ، یو ځل بیا مې دعا ورته وکړه او د شپې په خوره چوپتیا کې یې له قبره راستون شوم!

۱۹۹۵ ز کال

## کتاب پوهنه...

بیانېږي.

توصیفي کتاب پېژندنه، معمولاً د هغو زده کوونکو او څېړونکو د استفادې لپاره ده، چې د کتابونو، مقالو، سندونو او مدارکو د بڼې په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره هڅه او لټه کوي.

**دویم–انتقادي (تحلیلي) کتابپوهنه (Critical bibliography):**

دا ډول کتابپوهنه یا کتاب پېژندنه د شلمې میلادي پېړۍ په لومړیو کلونو کې، چې کتاب پوهانو د کتاب څېړنې لاروچارو ته خپله زیاته پاملرنه واړوله، رامنځ ته شوه.

دغو څېړونکو په لومړي ګام کې، وکړای شول چې په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې د چاپ شویو کتابونو، چې په (Incunabula) مشهور دي، تر ۱۵۰۱ میلادي کال پورې چاپ شویو کتابونو د لیکنې دقیق تاریخ – معلوم کړي.

دغه ډول کتابپوهنه د متونو د کره کتنې په ډګر کې په پراخه توګه کارول کېږي، په لومړیو کتابپوهنو کې ډېر مهم اصل د هر لیکوال د ټولو آثارو د فهرست جوړول او ترتیبول دي، دا فهرست د لیکوال د خپلو آثارو وي، خپله کتاب پوهنه یا کتاب پېژندنه (Auto biblio graphy) یا که د هغو موضوعاتو وي، چې هغه یې پېژندلي دي.

د (مرجع شناسی) اثر لیکوال په عامه توګه کتابپوهنه داسې راپېژني:

"کتابپوهنه په ساده ژبه داسې تعریفولی شو، چې کتابونه د خپلو ځانګړو مشخصاتو له مخې په ترتیب او تنظیم سره، پرته له دې چې یوه ځانګړې کتابخانه په پام کې وي، وپېژندل شي. دغسې پېژندنه د کتابپوهنې یوه ځانګړنه ده او باید چې هغه د یوه علم یا هنر په توګه راجلا کړو. د علم په توګه، کتابپوهنه هغې پوهې ته وایي، چې د بحث موضوع یې د کتاب ټول کمي او کیفي اړخونه وي. په دې لړ کې، که موږ د کتاب مادي او جوړوونکي یا تشکیلوونکي کیفیتونو باندې بحث کوو او که کتاب له یوه نسل څخه بل ته د افکارو او نظریاتو د یوې لېږدوونکې وسیلې په توګه په پام کې نیسو او کتابپوهنه د یوه فن یا هنر په توګه د کتابونو په هکله د پوهنې او معلوماتو د ترلاسه کولو یوې لارې او د هغې په اړه له څېړنې څخه عبارت دي، چې دغه کتابونه په منظمه او مرتبه توګه راپېژني، چې د کتاب د نوم او ځانګړنو د پېژندنې پانګه د هغې محصول دی.

دلته مو باید دې خبرې ته پام وي، چې د کتابپوهنې او فهرست جوړونې ترمنځ توپیر شته. فهرست جوړونه (د کتابپوهنې یو ډول کېدای شي) د یوې یا څو کتابخانو د کتابي او غیر کتابي موادو یا آثارو ټولګه په پام کې نه لري، د دې ټکي یادونه بې ګټې نه ده، چې په پخوا زمانو کې په ایران کې فهرست جوړونه د کتابپوهنې په معنا کارول کېده، لکه د ابن ندیم فهرست."(۵)

اخځلیکونه:


(۱) هېوادمل، زلمی، فرهنګ ادبیات پښتو، دریم ټوک، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه، کابل، ۱۳٦٦لمریز کال، ۱٦۸مخ.

(۲) شینواری دوست (سرمحقق)، د ادب تیوري اساسونه، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه، کابل، ۱۳٦۵لمریز کال، ٦مخ.

(۳) فرهنګنامه ادبی فارسی (د حسن انوشه په زیار)، دویم ټوک، دریم چاپ، وزارت ارشاد و فرهنګ ایران، تهران، ۱۳۷۱لمریز کال، ۱۳۵مخ.

(۴) ماهیار عباس (ډاکټر)، مرجع شناسی ادبی و روش تحقیق، پنځم چاپ، تهران، ایران، ۱۳۸۱ لمریز کال، ۴۷مخ.

(۵) مرادي، نورالله، مرجع شناسی، وزارت فرهنګ اسلامی ایران، تهران، پنځم چاپ، ۱۳۸۱ لمریز کال، ۳۲۴مخ.


## اول نومره...

ولرو، په هغې باندې غور کولو ته وخت ولرو او یوې نتیجې ته د رسېدو په وجه دا وېره راسره نه وي، چې که داسې ووایم، نو پلانی به خوابدی شي.

هر څوک د معرفت له خاصو ساحو سره مینه لري، خو که د اول نومره توب غم ورسره وي، ټول مضامین به په یوه اندازه لولي، ځکه غواړي به چې په هر مضمون کې یې نومرې پوره یا تقریباً پوره وي. که د لیاقت معیار اول نومره توب نه، بلکې په اول ګروپ کې راتلل وي، بیا به زده کوونکی د خپلې خوښې له مضمون سره د لا زیاتې بوختېدا لپاره نسبتاً ډېر فرصت لري.

زده کوونکی د اول نومره توب لپاره هڅه کوي، چې د خپل استاد غوندې فکر وکړي او د هغه له نظره د مضامینو محتویاتو ته وګوري. دغه شی هم د ذهن خلاقیت او انفرادیت ته تاوان پېښوي. د پوره نومرو د لرلو اسره متعلم اړباسي، چې د کتاب ټولې خبرې ټکي په ټکي حافظې ته وسپاري، حال دا چې که دغه اسره نه وي، زده کوونکی د کتاب د مهمو او غیرمهمو خبرو ترمنځ نسبتاً په اسانه فرق کولای شي او دا امکان ډېرېږي، چې د متن په وړاندې منفعل نه، بلکې فعال واوسي. هر خلاقیت یو ریسک (خطر) غواړي، خو اول نومره ته د ریسک منل یو څه سخته وي.

د درجې سیستم د دې لپاره دی، چې د زده کوونکو د لیاقت اندازه په دقیق ډول معلومه شي، خو په دغه وړتیا کې یې هم شک کولای شو. زه چې په دولسم ټولګي کې وم، د منطق کتاب مې هېڅ وخت ونه لوست، خو استاد راته پوره نومرې راکولې، ځکه زه اول نومره وم. یو شمېر استادان فکر کوي، چې اول نومره ته باید تر نورو زیاتې نومرې ورکړي. له ځینو نورو سره وېره وي، چې که اول نومره ته تر نورو زیاتې نومرې ورنه کړي، ممکن جنجال ورته جوړ شي.

د ۱۳۹۲ لمریز تعلیمي کال تر پیلېدو دمخه، ولسمشر حامد کرزي حکم وکړ، چې د هر ولایت له اول نومره ګانو څخه دې پنځه کسه بې کانکوره په پوهنتون کې شامل شي. په کابل ولایت کې د دولسم ټولګیو د ۱۳۹۱ کال یوسلو پنځوس کسه داسې فارغان وو، چې په ټولو مضمونونو کې یې سل، سل نومرې وړې وې. د کابل د معارف ریاست وغوښتل، چې د دوی له منځه پنځه کسه انتخاب کړي. منطقي لاره خو دا وه چې له دوی یې امتحان اخیستی او پنځه یې په کې غوره کړي وای، مګر بله فیصله وشوه. سلا په دې راغله چې پچه دې واچول شي. د پچې خبره چې رسنیو ته ورسېده، ځینو کسانو ورباندې نیوکه وکړه. زما ګومان دا دی چې په پچه کې ځکه مصلحت ولیدل شو، چې امتحان ممکن د ډېرو د لیاقت واقعي اندازه افشا کړې وای. زه د کابل ښار په لیسو کې داسې زده کوونکي پېژنم، چې په سلو کې سل نومرې ورکول کېږي، خو سویه یې شاید تر متوسطو زده کوونکو زیاته نه وي.

د اول نومره توب امتیاز ځینې کسان هڅولي دي چې د نقل، د رشوت، د مېلمستیاوو، د واسطو او د غوړه مالي په زور دغه مقام ترلاسه کړي. دغه حالت نوی کهول (نسل) په ټولنه باندې بې باوره کوي او د فساد او درغلۍ لور ته یې بیایي. اول نومره ګان چې معمولاً د ټولګي کپتانان وي، په نورو زده کوونکو باندې د کلانکاري شوق هم کوي او په دې ډول د ځان او د نورو د شخصیت سالمې ودې ته صدمه رسوي. ایا دا به بهتره نه وي چې کپتاني په نوبت شي او ټول زده کوونکي ادارې ته د تګ راتګ او د سرمعلم د پېژندلو مساوي چانس پیدا کړي؟

د نړۍ ګڼو ښوونځیو او پوهنتونونو د درجې سیستم ختم کړی دی او د زده کوونکو او محصلانو د ارزولو لپاره یې لا کامیابې لارې موندلې دي. موږ چې ډېر امکانات نه لرو، د درجې د سیستم د تاوانونو د کمولو لپاره کولای شو، ګروپي سیستم رواج کړو. ځینې کسان شاید ووایي، چې په ګروپي سیستم کې د ډېرو لایقو شاګردانو هاغسې قدرداني نه کېږي، لکه د درجې په سیستم کې. د دوی خبره سمه ده، مګر اروا پوهنه وایي، چې کله بهرنۍ ستاینې او قدرونې وي، داخلي انګېزې کمزورې کېږي. په هغه زده کړه کې چې د زړه په غوښته وي او په هغه زده کړه کې چې د نومرو په خاطر وي، د ځمکې او اسمان فرق دی. ما هغه کتابونه هېر کړي دي چې د نومرو په خاطر مې زده کړي وو، خو هغه کتابونه چې په شوق مې لوستي وو، له کلونو وروسته هم د خوږو خاطرو غوندې راسره دي او د ژوند د بې ادرسه مزل په کږلېچونو کې لاره رانښیي.

## غزل

**نصرالله ناصر**

وربځې چې تاوېږي بیا د لمر په مخ
پرخه به ورېږي د سحر په مخ

زه چې یې په مینه کې سوځېږمه
شمه ده ویلېږي د مجمر په مخ

دا چې راته وخاندي په مینه بیا
ستوري مې نڅېږي د قمر په مخ

ستا چې لوپټه په نسیم والوځي
هیلې مې ځوړېږي د ګودر په مخ

پټ مې کړه د حسن تر پردې لاندې
وګوره "ناصر" ته د بستر په مخ

۱۳٦۵/۹/۵

چهارشنبه ▣ ۱۹ – ۲۴ مه گڼه ▣ دريېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۹ ۲۲۴ مه گڼه ▣ ۱۳۹۳ لمريز کال د کب (حوت) ۲۷ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د جمادي الاولى ۲۶ مه ▣ ۲۰۱۵ زېږديز کال د مارچ ۱۸ مه ▣ ۴ مخ


# زېرى

پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدير: څېړندوى محمداصف احمدزى
مهتممه: څېړندويه ملکه مشتري
کمپوز او ډيزاين: م. ا. احمدزى
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو د مرکز
خپرنيز ارگان
پته: د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبياتو
مرکز، زنبق څلور لارې، نوى ښار،
کابل - افغانستان


# د خيبر پر څلي

استاد حبيب الله رفيع

د ماښام تره غوني راخورېدونکې وه، له معمول سره سم د صابرشاه دوکان ته ورسېدم، خو د معمول خلاف د دوکان ور تړلى و، له طاهرشاه نه مې وپوښتل: صابر چېرې دى؟

هغه يو ناڅاپه راته وويل: خيبر مړ شوى، هغه د خيبر جنازې ته تللى او ويل يې، چې دى دې هم راځي.

زه د خبر له اورېدو سره بېرته راستون شوم، طاهرشاه وويل: راځه، چاى وڅښه!

ما ويل: نه! چاى نه څښم.

بېرته راوگرځېدم، پر ځان پوه نه شوم چې د غريب اباد او سپين جومات ترمنځ لاره به مې څنگه او په څومره وخت کې وهلې وي؟ خو چې ځان ته مې کتل، د سپين جومات په تمځاى کې د جم موټر ته ولاړ وم، بس راغى، په کې کښېناستم، روان شو، څه زما بېړه وه او څه هم د جم بس و، زيات وخت يې واخيست، له باب خيبر سره خو يې د معمول مطابق اوږد ځنډ وکړ او بيا روان شو، "ټيډي بازار" ته چې ورسېدم، له بس نه پلى شوم، داسې ښکارېده چې همدا وروستنى بس و، هوا بېخي تياره شوې وه، زه وارخطا – وارخطا گرځېدم، دوه تنه زلمي مې مخې ته راغلل، ترې ومې پوښتل:

خيبر به څه وخت خښېږي؟

ځوانانو ځير – ځير راته وکتل، زما لېونتوب ته حيران شول او بيا يې ځواب راکړ.

د خيبر جنازه پنځه بجې وه، د وخته خښ کړاى

زه هم له دې ډلې سره د قبر د پښو خواته ودرېدم، لاسونه مې دعا ته پورته کړل او د خداى (جل جلاله) رحمتونه مې ورته وغوښتل، سپين پوښو کسانو له ما سره سترې مه شې وکړل او بيا روان شول، زه يواځې پاتې شوم او خاموشي نوره هم درنه شوه، د امامانو د شام غريبانه صحنه مې سترگو ته ودرېده او سترگو مې بې اختياره د قبر پر خيشتو ختهو تودې اوښکې ونوللې، د خيبر لوړ غرونه د ماښام شفق په رڼا کې د دېوانو غوندې تور او سهمجن ښکارېدل او ورسره غلي او چوپ، صحنې مې په ذهن کې څه شعري غزونې وکړې او يوه قطعه مې ذهن ته راغله:

نه اورم هغه د هنر غزلې
له کيفه ډکې سراسر، غزلې
د خيبر لوړ غرونه خاموش ځکه دي
شوې په کې غلې د خيبر غزلې

او بيا مې په ولاړه – ولاړه کې د ذهن فلم په چورلېدو شو، هغو وختونو ته لاړ چې ۱۴ کاله وړاندې مې د خيبر "د خيبر انگازې" نومې تذکره لاسته راغلې او د هغې له مخې مې خيبر په غياب کې پېژندلى و، د ده دا تذکره تشه د شاعرانو د زېږېدو او مړينې تذکره نه، بلکې خاصه شوخي يې درلوده، په خاکه يې انداز کې يې د خيبر د ليکوالو پر ژوند ترسکونې خبرې، له نکتونه ډکې خبرې او د طنز په مالگه مالگينې خبرې درلودې او بيا هغه وخت راياد شو، چې ما لس دولس کاله وړاندې يو ببرسرى



زه خو جسماً د جم په تره غوني ماښام کې د تورو خاورو د نوي مېلمه د قبر څلي ته ولاړ وم، خو فکراً مې د خپل ژوند د هغو ټولو صحنو فلمونه رامخ ته شوي وو، چې له خيبر سره مې تېرې کړې وې، دلته هغه جنتي شپه هم رايادە شوه، چې د دير په خانپور کې د "اباسين" له سرزورو څپو سره يوځاى کړې او په يوه مشاعره کې کښېنولې وو؛ هغه شپه هم رايادە شوه چې د سايل په سوال مو د ملکنډ د لوړو پېچومو په غېږه کې سره تېره کړې او ترسهاره مو شپه په شعر روڼه کړې وه او هغه وروستۍ شپه هم رايادە شوه، چې د روان کال په اپرېل کې مو په باړه کې سره وکړه، په شپه کې د مشاعرې ترسرته رسېدو وروسته د باړې بند ته د ځدراڼ منتظر او قندهار اپريدي په ملتيا بوتلل شوو، چې هلته د موسيقۍ يو مجلس ونغوړو، خو توپاني هوا د بند په آرامه فضا کې ځاى رانه کړ او بېرته راغبرگ شوو او خيبر په خوږه خندا کې وويل: دا داسې ځاى دى، چې موږ د ورځې په کې وېرېدلو ، خو دوى د شپې ورته راوستلو!

زما د ذهن په فلم کې دا وروستۍ شپه وه، چې له خيبر سره مې په خواږه مجلس تېره کړې وه او بيا مې هغه ورځ هم ياد ته راغله، چې اباسين يوسفزي اخبار ته دردوونکى خبر ورکړى او په

محمد اصف احمدزى

# ادبي او فرهنگي خبرونه

**اسدالله غضنفر د ولسمشر فرهنگي سلاکار وټاکل شو**

د ولسمشر محمد اشرف غني د يوه فرمان له مخې، ليکوال او اديب استاد اسدالله غضنفر په فرهنگي چارو کې د ولسمشر د سلاکار په توگه وټاکل شوى دى. غضنفر د اروانښاد استاد محمد صديق پسرلي زوى دى، چې تردې وړاندې يې په آزادۍ راډيو کې د ايډېټر او يو مهال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانگه کې د ماسترۍ دورې د استاد په توگه دندې ترسره کړې ده.

*****

**د غزلستوري محمد صديق پسرلي د لومړي تلين ياد غونډه جوړه شوه**

د هېواد د نامتو شاعر او ليکوال غزلستوري استاد محمد صديق پسرلي د وفات د لومړي تلين ياد غونډه، د مرغومي په ۲۲ مه، د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د کنفرانسونو په تالار کې جوړه شوه. په دې غونډه کې، چې گڼ شمېر پوهانو، څېړونکو او فرهنگيانو گډون کړى وو، د استاد د ژوند او آثارو په اړه په مستند فلم ښودلو سربېره، د يو شمېر پوهانو له خوا د هغه د ژوند، ادبي هلوځلو او آثارو په اړه ويناوې او خاطرې واورول شوې. د غونډې له پاى ته رسېدو وروسته، گډونوالو د استاد پر مزار د گلونو گېډۍ کېښودې او بيا په سيد نورمحمد شاه مېنه کې د استاد محمد صديق پسرلي د لېسې د نومولو مراسم ترسره شول. محمد صديق پسرلى د ۱۳۹۲ لمريز کال د مرغومي مياشتې په ۲۲ مه د ۸۵ کلنۍ په عمر د وړپېښې شوې ناروغۍ له امله، له نړۍ څخه سترگې پټې کړې او د کابل ښار په شهداى صالحين کې خاورو ته وسپارل شو.

*****

**د ليکوال او ژورناليست گل رحيم نيازمن درناوى وشو**

د هېواد د شمال زون د فرهنگپال گل رحيم نيازمند د درناوي غونډه، په کابل کې د افغانستان قلم ټولنې له لوري د مرغومي په ۲۳ مه جوړه شوه. په دې غونډه کې د گل رحيم نيازمن د شخصيت، ادبي هڅو او ليکوالۍ په اړه مقالې ولوستل شوې او تر څنگ يې، يو شمېر ليکوالانو خبرې هم وکړې. گل رحيم نيازمن، په ۱۳۵۶ لمريز کال په کندوز کې زېږېدلى او په ۱۳۹۱ کال د ژبو او ادبياتو له پوهنځي فارغ شوى دى. د شعرونو يوه ټولگه، د گڼو تحقيقي راپورونو يوه ټولگه، پخوانى قطغن او اوسنى کندز په نامه څېړنيز کتابونه يې چاپ ته چمتو دي.

*****

**پښتو – چينايي قاموس چاپ شو**

د پښتو – چينايي ژبې لومړنى قاموس، چينايي پروفيسور "جې هونگ څاى "ليکلى، چې په ۱۳۹۰ مخونو کې د پنځوس زره لغتونو زېرمې په لرلو سره، د ۵۰۰ ټوکو په شمېر په بيجينگ کې چاپ شوى دى. نوموړى ليکوال وايي، چې د دې قاموس ليکلو ۳۶ کال وخت نيولى دى. د دې قاموس ليکوال ته د ۱۳۹۳ کال د مرغومي په ۳۰ مه، د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري، د سيد جمال الدين

شو! ما بیا وپوښتل:
قبر یې چېرې دی؟
د قبلې لور ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:
هغلته وړاندې!

څو قدمه مخ ته ولاړم، د اغزو په منځ کې یو نوی جوړ شوی قبر ښکاره شو، چې ختې یې تازه او د ګلونو څادر پرې غوړېدلی و، شاوخوا مې وکتل، نور قبرونه نه وو، دا یوازېنی قبر و، پوه شوم، ده لکه څنګه چې په ژوند کې یوازېتوب غوښت، همداسې یې پس له مرګه هم یوازېتوب خوښ کړی و.

د جمعې د ورځې ماښام و، په جم کې د جم او جوش پرځای چوپه چوپتیا وه، دوه سپین پوښه کسان د قبر له سر او پښو سره ولاړ وو، د قرآن کریم آیتونه یې ولوستل، بیا یې لاسونه د خدای (جل جلاله) حضور ته پورته کړل، دعا یې وکړه: "ښه سړی و، خدای به یې وبخښي!"

فیلسوف نما ځوان په پښتو اکېډمۍ کې ولید او چا راته وویل: دا خیبر اپریدی دی! سترې مه شي مې ورسره وکړل، خو په لومړي سر کې لږ څه مغروره راته ښکاره شو، په همدې وخت کې مې یې د "ګرځندي" کتاب هم ولید او ولوست او د خیبر له خوږې او غزلیزې شاعرۍ سره آشنا شوم!

او بیا مې د ذهن پردې ډېر فلمونه واړول راواړول، په ډېرو کې یې خیبر راته ښکاره شو او له خیبر سره یې د ژوند خاطرې راته مجسمې کړې، د پښتو اکېډمۍ له خوا د باړه ګلۍ د لیکوال په سیمینار کې خو مو پوره اوونۍ سره تېره کړې وه، د ورځې مو یې خوږې خبرې او د شپې خوږې غزلې اورېدې، دی زما د لومړي برداشت په خلاف چې مغرور راته ښکاره شوی و، ډېر خاکسار او فقیرمشربه انسان و، ډېر خوش طبع او ظریف انسان و او ډېر نکته سنج او نکته دان انسان و.

کې لیکلي یې وو، "د خیبر دواړه پښتورګي له کاره ولوېدل او په روغتون کې بستر شو". زه یې خیبر هسپتال ته پوښتنې ته ورغلم، رنګ یې زېړ و، شونډې یې وچې وې او د راوتو په وخت کې یې راته وویل:

دعا راته وکړه، تاسې زجرونه او زحمتونه لیدلي، ستاسو دعا قبلېږي، دعا راته وکړه چې خدای مې ښه کړي!

ما لاسونه پورته کړل، دعا مې ورته وکړه او ترې رارخصت شوم!

بیا مې هغه وختونه هم رایاد شول، چې په اخبارونو کې د مسوولو مقامونو ډېرې وعدې راغلې، چې دوی به د خیبر تداوي کوي او لګښت به پرې کوي، خو په عمل کې هېڅ ونه شول او خیبر د پیسو د نشت قرباني شو، نو یو ځل بیا مې مغز کړیکه وکړه او دا یوه بله قطعه مې په ذهن کې راوګرځېده!

# څرګندونه!

درنو لوستونکو!

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز د خپرنیز ارګان "زېري" جریدې د ۱۳۹۳ لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په ۱۵ -۱۸ (پرله پسې ۲۱۵ - ۲۱۸) ګڼه کې د څېړنوال عبدالقیوم مشواني د "ارزښت" تر سرلیک لاندې مضمون دویمه برخه خپره شوې، چې د لومړي پرګراف په عبارت کې، راغلو دغو مفاهیمو یې وضاحت ته اړتیا درلوده:

"د وخت په تېرېدو سره دغه ارزښتونه چې محلي، عرفي او دودیزوي، د پراخېدو په لور حرکت کوي او د ټولنې یوه کتله رانیسي. دا ارزښتونه د وخت په تېرېدو بیا وروسته په یوه اخلاقي اصل بدلېږي. اخلاقي اصل په دې معنا چې الزامیت به یې وي؛ خو له هغو سرغړونه یوائې د انسان شخصیت ته په ټولنه کې صدمه رسولای شي، یعنې داسې کوم کار نه شي کېدلای چې یو څوک مکلف وي، چې د دې سرغړونې په مقابل کې سرغړوونکی وګواښي. دغه دودیز ارزښتونه وروسته په اخلاقي ارزښتونو بدلېږي. کله چې د ګروهې مسئله رامنځ ته کېږي، انسان د ماوراءالطبیعي فکتورونو تر اغېزو لاندې راځي، چې د مذهبي حرکت یا یوه جامع دین په توګه یې مني. نو دغه عرفي قواعد یا ارزښتونه چې اخلاقي بڼه یې خپله کړې ده، دلته په دیني ارزښت بدلېږي."

څرنګه چې د لیکوال د عبارت مفهوم په ټولو (حق او باطلو) ادیانو یو ډول اطلاق کېده، نو زموږ په مسلمانه ټولنه کې له لوستونکو سره د اسلام د سپېڅلي دین (چې بې له شکه حق او الهي اسماني دین دی) د رامنځ ته کېدو په اړه، یو لړ پوښتنې او ناسم تعبیرونه رامنځ ته کېدل. له همدې امله د "زېري" ادارې له لیکوال څخه په دې اړه د پورتني عبارت د وضاحت غوښتنه وکړه، چې نوموړي داسې څرګندونې وکړې:

"لکه چې څرګنده ده، په بشري نړۍ کې دوه ډوله دینونه شتون لري؛ یو حق الهي اسماني دینونه دي، چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره د حضرت جبراییل علیه السلام په وسیله د وحي له لارې خپلو پیغمبرانو ته رالېږلي، ثابت الهي احکام دي، بشر په کې د هېڅ ډول تصرف حق نه لري. د اسلام سپېڅلی دین په دې لړ کې وروستی برحق دین دی او بل باطل دینونه دي؛ چې د بشري تاریخ په بېلابېلو دورو کې د مختلفو شرایطو، انګېزو، خرافاتو او توهماتو تر اغېزو لاندې د ځینو وګړو له خوا د بېلابېلو موخو او غرضونو له مخې رامنځ ته شوي، د وخت په تېرېدو او د حالاتو په بدلېدو په کې د هغو د لارښوونکو او پیروانو له خوا بدلونونه رامنځ ته شوي او د دغو باطلو دینونو بېلابېلې څانګې یې جوړې کړې دي، لکه بودایي دین، زردشتي دین، مجوسیت او نور.

دلته زما د لیکنې موخه او غرض د هغو باطلو ادیانو د رامنځ ته کېدو په اړه څرګندونې دي، چې په دې بشري نړۍ کې د بېلابېلو ټولنیزو اخلاقي ارزښتونو پربنسټ په خپله د بشر په لاس رامنځ ته شوي او د باطلو عقیدوي لارو په توګه یې تبارز کړی دی. اسلام خو برحق آسماني الهي وروستی دین دی، چې بشر یې د ټولو ثابتو احکامو په منلو د الله جل جلاله له لوري مؤظف ګرځول شوی او د هېڅ ډول لاسوهنې حق په کې نه لري؛ دا کومه ټولنیزه معنوي زېږنده نه ده، چې د بشر په لاس دې جوړ شوی وي، بلکې الهي ارشادات او احکام دي؛ نو ځکه زما په لیکنه کې دې خوا ته هېڅ ډول اشاره نشته. لوستونکي دې زما په مقاله کې راغلې څرګندونې د اسلام د سپېڅلي دین په اړه په ناسمه توګه نه تعبیروي".

په درناوي



افغان عالي دولتي مډال هم ورکړل شو.

نوموړی د پښتو ژبې د زده کړې لپاره په ۱۹۵۹ زېږدیز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او په ۱۹۶۳ کال له پښتو څانګې فارغ شو. بیا یې د اوږدې مودې لپاره په کابل کې د چین په لوی سفارت کې دنده ترسره کړې ده.

*****

## د اخوند موسی باباجي مقبره والوځول شوه

د ننګرهار په بټي کوټ ولسوالۍ کې د پښتون عالم اخوند موسی باباجي تاریخي مقبره د سلواغې په ۱۴مه، د ناپېژاندو وسله والو له خوا په ماینونو الوځول شوې ده. "پر شاګرد د استاد حقوق" او "الفنامه" د هغه له آثارو څخه ګڼل شوي دي.

*****

## د شاعر او ژباړن میراحمد یاد نمانځغونډه جوړه شوه

د ننګرهار په مرکز جلال اباد ښار کې د "یو کال؛ ۱۲ کتابه" تر سرلیک لاندې د شاعر او ژباړن میراحمد یاد نمانځغونډه د جلالکوټ ادبي خوځښت له لوري د سلواغې په ۱۷مه جوړه شوه. په دې ناسته کې چې لسګونو فرهنګیانو او ادیبانو په کې ګډون کړی وو، وینااوالو د ځوان میراحمد یاد پر آثارو خبرې وکړې او د هغه فرهنګي هڅې یې ارزښتناکې وبللې. تردې وروسته ازاده مشاعره وشوه، چې لسګونو شاعرانو په کې خپل شعرونه واورول.

یاد د ننګرهار د کوټ ولسوالۍ اوسېدونکی دی، چې اوسمهال په یوه خصوصي پوهنتون کې د اقتصاد برخې محصل او له ننګرهار څخه د خپرېدونکې اونیزې "کرښې" مسوول مدیر دی.

*****

## د پښتو ژبې لوی شاعر شمس القمر اندېش مړ شو

د پښتو ژبې د غزل لوی شاعر شمس القمر اندېش د کب په ۱۷مه د ورپېښې نارغۍ له امله، د ۸۱ کالو په عمر وفات شو او جنازه یې په سبا ورځ د پښتونخوا د مردان د مایارو په سیمه کې خاورو ته وسپارل شوه. د اندېش ډېری غزلې د وخت مشهورو سندروغاړو په خپلو اوازونو کې ویلې، خو د هغه د غزلونو کومه ځانګړې ټولګه په کتابي ډول نه ده چاپ شوې، خو د انقلابي نظمونو مجموعه یې "د فخر افغان" په نوم چاپ شوې ده.

نوموړی د مردان د مایارو په کلي کې د عمرخان په کور کې په ۱۹۳۴ز کال د اکتوبر په میاشت کې زېږېدلی او له پنجاب پوهنتون څخه یې په ۱۹۶۹ کال د بي اې ډګرې ترلاسه کړې وه. سره له دې، چې هغه ټول عمر په سوداګرۍ کې تېر کړی، خو د خدایي خدمتګار تحریک کې یې فعال رول ترسره کړی او د باچاخان په زیاترو جلسو کې به یې انقلابي نظمونه ویل.

*****

## د حمزه بابا د ۲۱ تلین یاد غونډه ترسره شوه

د نومیالي شاعر او د غزل بابا امیر حمزه شینواري د ۲۱ تلین یادغونډه، په جلال اباد ښار کې د دې ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري د کب په شلمه ترسره شوه. دا غونډه د حمزه بابا د شخصیت، فلسفي، ادبي سبک او هنر د پېژندنې په موخه رابلل شوې وه، چې د بېلابېلو ولایتونو لسګونو فرهنګیانو په کې برخه لرله. په دې ناسته کې یو شمېر استادانو او فرهنګیانو د حمزه بابا د شخصیت په تړاو مقالې ولوستې، د هغه په فن، شخصیت او کارنامو یې خبرې وکړې.

امیر حمزه بابا په ۱۹۰۷ زېږدیز کال د پښتونخوا د لنډي کوتل د خوږه خېل په کلي کې د ملک بازمیرخان په کور کې زېږېدلی او ۲۱ کاله مخکې په ۱۹۹۴ کې یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي.

*****

## د محمد صدیق روهي د زوکړې د اتیایمې کالیزې په ویاړ سیمینار جوړ شو

د خوست په شیخ زاید پوهنتون کې د کاندید اکاډیمیسن څېړنپوه محمد صدیق روهي د زوکړې د اتیایمې کالیزې په ویاړ علمي سیمینار د کب په ۲۱مه، ترسره شو. په دې علمي سیمینار کې د علومو اکاډمۍ له ځینو څېړونکو سربېره لسګونو نورو پوهانو هم ګډون کړی وو او یو شمېر لیکوالانو په خپلو مقالو کې د استاد روهي پر ژوند او خدمتونو خبرې وکړې. روهي په ۱۳۱۲ لمریز کال کې د خوست ولایت په اسماعیل خېلو ولسوالۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې وې او په ۱۹۹۶ز کال د جرمني د مونښن ښار په یوه روغتون کې د ورپېښې ناروغۍ له امله وفات شو.

*****

## لیکوال او شاعر محمد حسن حسام وفات شو

لیکوال او شاعر محمد حسن حسام د کب په ۲۴مه، د ورپېښې ناروغۍ له امله مړ شو. د ده جنازه د کونړ د نورګل ولسوالۍ په نورګل کلي کې خاورو ته وسپارل شوه. نوموړی ۱۱ عنوانه چاپ شوي آثار لري، چې ۸ یې په پښتو او ۳ په پشه یي ژبه دي.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.